**په اخلاص، زغم او ټینګار سره د ظالمو چارواکو پر وړاندې د حق خبره کول یو مکلفیت او په ژوند او مرګ پورې تړلې موضوع ده**

د بصیرت څښتنانو او د عقل خاوندانو ته سلام، هغوی چې حق د حق په څېر بیانوي او د حق پر لاره ځي، باطل د باطل په څېر بیانوي او له باطل څخه خپل مخ اړوي او نور هم ورڅخه ژغوري. هغوی چې محمدي امت له تاریکیو څخه ژغوري او د ظالمانو او خپلسرو څخه یې ساتي، هغه ظالمان او خپلسري چې خلک له حق لارې او د ټولو جهانونو له رب څخه یې اړوي. هغو کسانو ته سلام چې اسلامي احکام پلي کوي، د اسلامي احکامو د پلي کېدو لپاره هلې ځلې کوي، اسلامي امت به رهبري کوي او ټول بشریت به د عدالت، خوښۍ، نېکمرغۍ، امنیت او پرتمین اسلام لوري ته رابولي.

یوازې موږ «**غوره شوی امت**» به دغه کار کوو! که موږ د زړه له تله له الله سبحانه وتعالی څخه وغواړو چې زموږ اوسني حالت ته بدلون ورکړي، نو موږ باید تر هر څه وړاندې اوسني حاکمان محاسبه کړو، د دوی نیمګړتیاوې، خیانتونه او چلونه امت او د ځواک څښتنانو ته بربنډ کړو او پر دوی غبږ وکړو چې له هغه کاروان سره یوځای شي چې **نېکۍ ته امر او له بدۍ څخه منع کوي**، ترڅو اسلامي ژوند بیرته را ستون او د دوی په نصرت سره یې ملاتړ وشي. د یاد کار ترسره کول فرض او د مرګ او ژوند تر بریده باید په پام کې ونیول شي. زموږ رب چې المنتقم (غچ اخیستوونکی) دی له موږ څخه غواړي چې په ځانونو کې بدلون راولو، ترڅو تاریکۍ له منځه ولاړې او روښنایي راشي. دی سبحانه وتعالی په الرعد سورت کې فرمایي:

**﴿إِنَّ اللَّـهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُوا مَا بِأَنفُسِهِمْ﴾**

[الرعد: ۱۱]

*ژباړه: الله سبحانه وتعالی د هغه قوم حالت نه بدلوي چې دوی خپل حالت پخپله بدل نه کړي.*

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

**«الدِّينُ النَّصِيحَةُ قُلْنَا لِمَنْ قَالَ لِلَّهِ وَلِكِتَابِهِ وَلِرَسُولِهِ وَلِأَئِمَّةِ الْمُسْلِمِينَ وَعَامَّتِهِمْ»**

[امام مسلم]

دین نصیحت ( مشوره او اخلاص) دی. موږ وویل د چا لپاره؟ ده صلی الله علیه وسلم وفرمایل، د الله، د الله کتاب، د الله پېغمبر او د مسلمانانو مشران او د دوی د پیروانو لپاره

همد راز هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**« أَفْضَلَ الْجِهَادِ كَلِمَةُ حَقٍّ عِنْدَ سُلْطَانٍ جَائِرٍ»**

د الله سبحانه وتعالیٰ په لاره کې غوره جهاد د ظالم حاکم پر وړاندې د حق خبره کول دي

د رسول الله صلی الله علیه وسلم په یو بل روایت کې راځي:

**«والذي نفسي بيده لتأمرن بالمعروف ولتنهون عن المنكر أو ليوشكن الله أن يبعث عليكم عقابا منه ثم تدعونه فلا يستجاب لكم.»**

[ترمذي]

په هغه الله دې مې قسم وي چې زما روح يې په واک کې دی! تاسو نيکۍ ته امر او له بدۍ څخه منع کوئ، که نه الله سبحانه وتعالی به له خپل لوري پر تاسو عذاب نازل کړي، نو تاسې به هغه سبحانه وتعالی ته ږغ کوی، خو هغه سبحانه وتعالی به تاسو ته ځواب نه وايي

قيس بن ابوحازم رضي الله عنه له ابوبکر صديق رضي الله عنه څخه روايت کوي:

**«أيها الناس إنكم تقرءون هذه الآية يا أيها الذين آمنوا عليكم أنفسكم لا يضركم من ضل إذا اهتديتم وإني سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم «يقول إن الناس إذا رأوا الظالم فلم يأخذوا على يديه أوشك أن يعمهم الله بعقابه»**

اې خلکو! تاسو دغه ايت تلاوت کوی، له ځانونو سره پام کوئ! که تاسو په دغه لاربښود باندې عمل وکړئ، نو بې لارې خلک به تاسو ته هيڅ زيان ونشي رسولی.(۵:۱۰۵) په رښتيا سره ما له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه واورېدل چې ويې فرمايل: کله چې خلک يو بدکاره ويني او دوی هغه له ناوړه کار څخه منع نه کړي، نو الله سبحانه وتعالی به دوی په عذاب اخته کړي. ابن ماجه هم په لاندې الفاظو حديث روايت کړی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

**«إن الناس إذا رأوا الظالم فلم يأخذوا على يديه أوشك أن يعمهم الله بعقابه»**

[امام احمد]

که څوک يوه ګناه ويني او خلک ترې منع نه کړي، ژر به الله سبحانه وتعالی پر دوی ټولو باندې عذاب نازل کړي.

البته دا اسانه نه ده چې د خلکو حالت دې بدلون ومومي. د تاريخ په اوږدو کې پيغمبران او رسولان عليهم السلام او هغوی چې د دوی لاره يې تعقيب کړې، رټل شوي، ځورول شوي او له هر ډول ربړونو سره مخ شوي دي. موږ د قران کريم له ګڼ شمېر اياتونو څخه پوهېږو، چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم، اصحاب رضي الله عنهم او پخواني او اوسني دعوتګران هم له ګڼ شمېر ځورونو سره مخ شوي دي. له همدې امله دعوتګر او دعوتګره به د خپلې کورنۍ، ټولنې او حکومت له لوري له بې شمېرو کړاوونو او فشارونو سره مخ شي. دی يا دا بايد د يادو فشارونو پر وړاندې مقاومت وکړي، د خپل دعوت او خپلې تګلارې ريښتنولۍ ته بايد ژمن واوسي. ستر څښتن الله سبحانه وتعالی په ګڼو اياتونو کې فرمايلي چې دعوتګر به له کړاوونو سره مخ شي، خو په ورته وخت کې يې له ده يا دې سره په دې نړۍ کې د دوامداره بري او په اخرت کې د جنت ژمنه کړې.د بېلګې په توګه دی سبحانه وتعالی فرمايي:

**لَتُبْلَوُنَّ فِي أَمْوَالِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ وَلَتَسْمَعُنَّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِن قَبْلِكُمْ وَمِنَ الَّذِينَ أَشْرَكُوا أَذًى كَثِيرًا ۚ وَإِن تَصْبِرُوا وَتَتَّقُوا فَإِنَّ ذَٰلِكَ مِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ**

[آل عمران:۱۸٦]

*ژباړه: خامخا به تاسو په خپلو مالونو او خپلو ځانونو کې وازمایل شی او خامخا به تاسو له هغو کسانو نه چې له تاسو نه مخکې ورته کتاب ورکړی شوی دی او له هغو کسانو نه چې مشرکان دي، د خفګان ډېرې زیاتې خبرې واوری او که تاسو صبر وکړی او پرهېزګاري غوره کړی، نو یقینًا دا د همت له کارونو څخه دي.*

د یادونې وړ ده چې هیڅ ځای کې نه دي راغلي چې یو پیغمبر، رسول یا د دوی لارویانو دې خپله عقیده پرې اېښې وي، د رټلو، ځورولو، سپکاوي او ربړونې له امله دې خپل دعوت پرېښی وي.

**د یوه دعوتګر ځانګړتیاوي:**

مسلمان دعوتګر باید د الله نصرت او کامیابۍ ته په کتو سره ځینې اړینې ځانګړتیاوي ولري. له یادو ځانګړتیاوو پرته به دعوتګر لار ورکی او په خپل کار کې ناکامه وي او ژمن به نه شي پاتې کېدلی.

1. **سالمه اراده:**

د اسلام او امت سپر –خلافت د تاسیس په موخه امر په نېکۍ او له بدۍ څخه منع، د ژوند او مرګ تر بریده د هغه لپاره کار کول او په ټولو نورو دنیوي چارو کې د هغه لمړیتوب ورکولو ته سالمه اراده یا پاک نیت ویل کېږي. په دې برخه کې بری یا شهادت حتمي دی. هغه اراده چې پر مټ یې یاده موخه ترلاسه کېږي، باید امت د سیاسي کار او د دعوت پر طریقه او پر هغه پورې اړوندو شرعي حکمونو له لارې چمتو شي. په حقیقت کې د مکې مشریکانو له ګڼو طریقو څخه کار واخیست او بېلابېل وړاندیزونه یې وړاندې کړل، ترڅو رسول الله صلی الله علیه وسلم منع او له خپلې موخې یې واړوي. خو هر ځلې رسول الله صلی الله علیه وسلم د دوی وړاندیزونه ردول، یو ځلې الله سبحانه وتعالی د دوی وړاندیز د سورت الکافرون په نازلولو سره رد کړ او بل ځلې رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل کاکا ته داسې وفرمایل:

**«يَا عَمّ، وَاَللّهِ لَوْ وَضَعُوا الشّمْسَ فِي يَمِينِي، وَالْقَمَرَ فِي يَسَارِ ي عَلَى أَنْ أَتْرُكَ هَذَا ا ْلأَمْرَ حَتّى يُظْهِرَهُ اللّهُ أَوْ أَهْلِكَ فِيهِ مَا تَرَكْتُهُ»**

اې کاکا! په الله دې مې قسم وي، که دوی زما په ښی لاس کې لمر او په چپ لاس کې مې سپوږمۍ کېږدي، زه به دغه کار پرېنږدم، ترڅو چې الله دغه دین غالب یا زه په دغې لار کې له منځه ولاړ شم.

2. **په خبرو او کړنو کې اخلاص:**

دعوتګر باید د الله سبحانه وتعالی له امرونو سره سمې خبرې وکړي او په خپلو کړنو کې د هغه سبحانه وتعالی امرونه په پام کې ونیسي، تل یې باید هڅه دا وي چې د الله سبحانه و تعالی رضایت ترلاسه کړي. له امامه الباهلي څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل:

**«ان الله لا يقبل من العمل الا ما كان له خالصا وابتغى به وجهه»**

[سنن النسايي]

الله به هیڅ کړنه قبوله نکړي، پرته له هغې چې په سوچه(یوازې) توګه د هغه لپاره وي او پر مټ یې د هغه د رضا غوښتنه وشي.

د دعوت لېږد عبادت دی او د عباداتو هر اړخ د دعوت په لېږد پورې تړاو مومي. له همدې امله د دعوت لېږد باید یوازې د الله سبحانه وتعالی د رضایت لپاره وي او اخلاص ورسره مل وي. دعوت په دې موخه باید وشي چې د الله سبحانه وتعالی امر دی او پر مټ یې د هغه سبحانه وتعالی رضایت ترلاسه کېږي. هره کړنه پرته له اخلاص څخه د شرک له خطر سره مخ ده. له همدې امله دعوتګر باید خورا ډېر یادې موضوع ته پاملرنه وکړي.

### 3. د ستونزو پر وړاندې زغم درلودل:

په هره کچه چې د دعوتګر اخلاص، فعالیت او انرژي زیاتېږي، ورسره جوخت د ستونزو شدت او د ربړونو کچه هم زیاتېږي، نو په دې حالت کې دعوتګر زغم او مقاومت ته اړتیا لري. یو رېښتنی، مخلص او باثباته دعوتګر د ستونزو پر مهال له بشپړ زغم څخه کار اخلي. هغه بنده چې د ستونزو او کړاوونو پر وخت له زغم څخه کار اخلي، د الله سبحانه وتعالی پر وړاندې د ډېر لوړ مقام څښتن دی. له عبدالله ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**« یُؤْتی بَّالشهید یَّوم اَّلْقیامۃ فَّیُنْصبُ لَّلْحساب، ویُؤْتی بَّالْمُتصدق فَّیُنْصبُ لَّلْحساب، ثَّم یَّؤْتی بَّأهْلِ اَلْبلاءِ، ولا یَّنْصبُ لَّهُمْ مِّیزان ولا یَّنْشَّرُ لَّهُمْ دَّیوان، فَّیُصب علیْهَّمُ اَّلاجْرُ صبا، حتی أَّن أَّ لاَّلْعافیۃِ لَّیتمنوْن فيَّ اَّلْموْقفِ أَّ نأَّجْسادهُمْ قَّرضتْ بَّالْمقارِیضِ مَّنْ حَّسْنِ ثَّوابِ الله لهُمَّ»**

[طبراني او ابو نعیم]

یو شهید به د قیامت په ورځ حاضر شي او ده ته به خپله بدله ورکړل شي. هغه چا چې په دنیا کې ډېر خیراتونه ورکړي دي، هغه به حاضر شي او ده ته به خپله بدله ورکړل شي. وروسته به هغه کس حاضر شي چې تل یې د ستونزو او کړاوونو پر وړاندې له زغم څخه کار اخیستی دی، خو ده ته به ډېرې زیاتې بدلې ورکړل شي ان مخکې له غروب څخه. هغو نورو چې مخکې لا ډېرې بدلې ترلاسه کړي وې، خپل جسمونه به د بدلو(مکافاتو) د لاسته راوړلو په مقابل کې ورکوي، چې دعوتګر ته یې الله سبحانه وتعالی ورکوي.

**الله سبحانه وتعالی ژمنه کړې:**

**﴿إِنَّمَا یُوَفَّی الصَّابِرُونَ أَجْرَهُم بِغَیْرِ حِسَابٍ﴾**

**[ الزمر: ١٠]**

*ژباړه: په رښتیا سره به صبر کوونکو ته خپل اجر بې حسابه ورکړل شي.*

### 4.د دعوت په لېږد کې ټینګ هوډ:

د دعوت لېږد پر هر مسلمان باندې فرض دی او په دې لاره کې دوامداره پاتې کېدل واجب دي. د اسلام او دعوت دښمنان په اسلامي قوانینو او مفاهیمو کې د شک او شبهې پیداکولو او له اسلامي مفاهیمو سره د نا

اسلامي مفاهیمو ګډولو له لارې د مسلمانانو ټینګ هوډ زیانموي او کمزوری کوي یې. د بېلګې په توګه دوی غواړي چې په دین کې شک او تردید رامنځته کړي او د اسلامي دعوت دیموکراتیک کولو او د اسلامي مفاهیمو د تیتولو له لارې حق او باطل سره ګډوي او ځینې غربي مفاهیم لکه ازادي، ټولنیز عدالت او جنسیتي مساوات له اسلامي مفاهیمو سره ګډوي او په دې توګه په اسلام او دعوت کې شک او تردید رامنځته کوي. دوی همدارنګه ژمن دعوتګران د بندي کولو، ربړولو، غربت او ان اعدام کولو له لارې وېروي او له ټولو وسایلو سره په کار اخیستنې سره هر وخت د دوی پر وړاندې مبارزه کوي. هر هغه څوک چې د دوی په فتنه کې ښکېل شو هغه زیانمن دی او هر هغه څوک چې د اسلام د شریرو دښمنانو په موخو پوه شول، هغه بریالي دي. الله سبحانه وتعالی هغه چا ته چې د دعوت په لېږد کې ثبات نه لري، خبرداری ورکړی دی:

**وَإِن كَادُوا لَيَفْتِنُونَكَ عَنِ الَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ لِتَفْتَرِيَ عَلَيْنَا غَيْرَهُ ۖ وَإِذًا لَّاتَّخَذُوكَ خَلِيلًا ﴿٧٣﴾ وَلَوْلَا أَن ثَبَّتْنَاكَ لَقَدْ كِدتَّ تَرْكَنُ إِلَيْهِمْ شَيْئًا قَلِيلًا ﴿٧٤﴾ إِذًا لَّأَذَقْنَاكَ ضِعْفَ الْحَيَاةِ وَضِعْفَ الْمَمَاتِ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ عَلَيْنَا نَصِيرًا**

**[الاسرا: ۷۵-۷۳]**

*ژباړه: اې محمده! دوی د په فتنه اچولو کې هېڅ راز سستي ونه کړه او هڅه یې وکړه له هغې وحیې د واړوي چې موږ در لېږلې ده، ترڅو ته زموږ په نامه له خپل ځانه کومه خبره جوړه کړې. که تا داسې کړي وای، نو هغوی هرومرو ته په دوستۍ نیولې او لرې نه وه چې که موږ ته ټینګ کړی نه وای، نو ته به د هغوی لوري ته څه ناڅه ور مات شوی وای.*

پایله: د اسلام او دعوت دښمنانو غوښتنو ته غاړه ایښودل، د دوی لوري ته ور دانګل، له دوی سره نرمي او خوږې خبرې کول، د کفري مفاهیمو، قوانینو او هغو نښو چې له اسلام سره خلاف دي نه ننګول، د اسلام او مسلمانانو پر وړاندې د دوی د پروګرامونو او چلونو نه بربنډول، د دوی کړنو ته غاړه ایښودل او ورسره هوکړه کول، د دوی پر ظلمونو سترګې پټول او د دوی جنایتونه بخښل، د اسلامي قوانینو او مفاهیمو بد معرفي کولو پر وړاندې پټه خوله پاتې کېدل، د دوی د غوښتنو پیروي کول او همدارنګه د اسلامي احکامو د بدلون هڅه کول...
ټول د ټینګ هوډ خلاف دي او په پای کې د دعوت پرېښودل د الله سبحانه وتعالی د قهر اوغوسې لامل ګرځي!

## ۵. الګو او بېلګه پاتې کېدل:

الله سبحانه وتعالی انسان له داسې فطرت سره پیدا کړی دی چې له محسوسو او فزیکي شیانو سره د نامحسوسو شیانو او مفاهیمو په پرتله ډېره لیوالتیا ښیي. د تاریخ په ترڅ کې هغه وخت چې اسلام د دولت یعنې خلافت له لارې پلی کېده، موږ ولیدل چې څومره ډېر خلک اسلام ته دننه کېدل او اسلام یې مانه. خو کله چې اسلام بشپړ نه پلي کېده او په پای کې خلافت هم له منځه ولاړ، لږو خلکو اسلام مانه. له همدې امله الله سبحانه وتعالی مسلمانانو ته امر کړی چې خلافت تاسیس کړي. د خلافت د تاسیس پر مټ د اسلام واقعي او

محسوس ښکاره کول د مسلمانانو مهمه دنده ګڼل کېږي، چې په دې سره به د مسلمانانو شمېر زيات شي. په اوسني وخت کې دا چې په نړۍ کې اسلام په واقعي توګه نه پلی کېږي، دعوتګر د اسلام يوازېنۍ محسوسه بېلګه او اولګو دی. له همدې امله دعوتګر بايد د اسلام يوه محسوسه الګو او سرلاری وي لکه څرنګه چې په هغه وخت کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم اصحاب وو. دی/دا بايد په ټولو خپلو ويناوو او کړنو کې د اسلام استازی وي او بايد د شرعي کړنو په ترسره کولو کې ډېر لېوال وي او هغه کړنې ترسره کړي چې د شريعت له لوري ټاکل شوي وي.

سر بېره پردې، دی/دا بايد غوره ځانګړتياوې ولري لکه ښه اخلاق، صداقت، اخلاص، سړيتوب، زغم، ثبات، عاجزي، بشردوستي، له الله څخه وېره، له الله سره محبت، او له هغه شي څخه کرکه چې الله ترې کرکه کوي او د خلکو لپاره د ښېګڼې غوښتنه کول. دی/دا بايد د بدو عادتونو او اخلاقو مخنيوی وکړي. بخيل، متکبر، کينه کښ او ظالمان د دعوت د لېږد لپاره وړ خلک نه دي. الله سبحانه وتعالی دوی ته بری نه ور کوي او نه هم خلکو ته د دوی د لارې خير رسوي، له همدې امله خلک په خپلو ويناوو او کړنو کې دوی د الګو په توګه نه نيسي.

د دعوت لېږد ډېر دروند مسووليت او سترې چاره ده. الله سبحانه وتعالی به يوازې هغه دعوتګر ته بری ورکړي، چې موخه يې جنت الفردوس لاسته راوړل، د اسلامي امت د ازادېدو وياړ تر لاسه کول او دوی له تيارو څخه روښنايي لور ته رهنمايي کول وي. له همدې امله دعوتګر او دعوتګره بايد له وېرې او د منتقدينو له تور پرته اسلامي مفاهيم او تګلاره په څرګنده، روښانه او سوچه توګه بيان کړي.

په پای کې زما ورونو او خويندو، که تاسو د اسلام او دعوت د دښمنانو له ربړونې او ظلم سره مخ شئ، نو تاسو زموږ د خوږ پېغمبر رسول الله صلی الله عليه وسلم دعا در ياده کړئ، کله چې دی صلی الله عليه وسلم د طايف د خلکو له ربړونې سره مخ شو. محمد بن کعب الکروزی ياده دعا داسې روايت کړې ده:

**«اللّهمّ إلَيْك أشْكُو ضَعْفَ قُوّ تي، وَ قلّةَ حيلَتي، وَ هَوَ اني عَلَى النّاس، يَاّ أرْحَمَ الرّاحمينَ! أنْتَ رَبّ الْمُسْتَضْعَفينَ وَ أنْتَ رَبّي، إلَى مَنْ تَكلُني؟ إلَى بَعيد يَتَجَهّمُني؟ أمْ إلَى عَدُوّ مَلّكْتَهُ أمْر ي؟ إنْ لَمْ يَكُنْ بك عَلَي ْغَضَبٌ فَلاَ أُبَالي، وَ لَكنّ عَافيَتَكَ هيَ أوْ سَعُ لي، أعُوذُ بنُور وَ جْهك الّذي أشْرَقَتْ لَهُ الظّلُمَاتُ وَ صَلُحَ عَلَيْه أمْرُ الدّنْيَا وَ ا ْلآخرَة من ْأن تُنْز لَ بي غَضَبَك، أوْ يَحـ لّ عَلَيّ سُخْطُكَ، لَك الْعُتْبَى حتّى تَرْ ضَى، وَ لاَ حَوْ لَ وَ لاَ قُوّ ةَ إلاّ بك»**

[امام مسلم، امام احمد بن حنبل]

اې زما ربه! زه د خپلې کمزورۍ، نه ملاتړ او له هغه سپکاوي چې له ما سره کېږي، تا ته شکايت کوم. اې خواخوږيه او ډېر مهربانه! ته د کمزورو رب يې او ته زما رب يې، ته ما چا ته پرېږدې؟ هغه دښمن ته چې له ما سره دښمني کوي؟ يا هغه دښمن ته چې پر ما ځواکمن دی؟ تر هغه وخته چې ته له ما څخه راضي يې، زه پروا نلرم د هغه څه چې ورسره مخ کېږم. خو زه به ستا له مهربانۍ ډېر خوښ شم. زه له ټولو هغو تيارو څخه تاته پناه

غواړم چې په دنيا او اخرت کې ستا د غوسې او قهر لامل گرځي. زه تاته ځان تسليموم، ترڅو ستا رضا لاسته راوړم. هرڅه ستا له ملاتړ پرته ناشونې دي.

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**

**ليکواله: زهرا ملک**

**ژباړن: صديق احمدزی**